*رسنيزه خبرپاڼه*

**د بېړنۍ خپرونې لپاره**

**یونیسف په افغانستان کې د ملیونونو ماشومانو د ژوند ژغورلو په موخه د تاریخ بشري مرستو غوښتنه کوي**

**د افغانستان انځورونه او ویډیوګانې له دې ځایه ډونلوډ کړئ:**

**کابل/ کتمنډو/نیویارک، د ډسمبر ۷ نېټه ۲۰۲۱** – د ماشومانو د ملاتړ لپاره د ملګرو ملتونو صندوق یا یونیسف د یوه واحد هېواد په کچه تر ټولو لویه غوښتنه وکړهترڅو په افغانستان کې د ۲۴ میلیون څخه ډېرو کسانو چې نیمايي یې ماشومان دي، بشري اړتیاوې پوره کړي. د یونیسف له خوا د ۲ میلیارد امریکایي ډالرو دغه غوښتنه به د خدماتي سیسټمونو، روغتیايي خدمتونو، تغذیې، اوبو، روغتیا ساتنې، زده کړو، د ماشومانو او کورنیو لپاره د نورو ټولنیزو او بنسټیزو خدمتونو له پرځېدلو څخه د مخنیوي په برخه کې مرسته وکړي.

په افغانستان کې د بشري ناورین له ډېرېدو سره په یوه وخت، په روغتیايي او تغذیوي خدمتونو کې د خبرداري تر کچې د اخلال او ګډوډۍ شاهدان یو او دغه راز فاجعه زېږوونکې د خواړو ناورین، وچکالي، د شري یا سرخکانو، شدید نس ناستي، ګوزڼ یا پولیو او د مخنیوي وړ نورو ناروغیو خپرېدل او له بلې خوا د ساړه ژمي را رسېدل به د دغو ستونزو شدت لا زیات کړي.

په افغانستان کې د یونیسف استازې الیس اکونګا په خبره، «په افغانستان کې اوسنۍ بشري وضعیت په ځانګړې توګه د ماشومانو لپاره ډېر خطرناک دی. ژمی پیل شوی او له دې امله یونیسف او د هغه همکاران له اضافي بودیجې پرته نه شي کولای له هغو ماشومانو او کورنیو سره مرسته وکړي چې دامهال موږ ته تر ټولو ډېره اړتیا لري.» نوموړې زیاته کړه: «په داسې شرایطو کې چې کورنۍ هڅه کوي او زیار باسي ترڅو خپلو دسترخوانونو ته مغذي خواړه راوړي او په داسې حال کې چې د افغانستان روغتیايي سیسټمونه تر سخت فشار لاندې دي، میلیونونه ماشومان د لوږې او مړینې له خطر سره مخامخ دي .نور د اوبو او حفظ الصحي د لاسرسي لپاره مبارزه کوي، له ښوونځي څخه ګوښه شوي او د تاوتریخوالی لوړ خطر سره مخ دي. په داسې حال کې چې ورځ تر بلې د کورنیو او ماشومانو ناهیلي زیاتېږي، یونیسف به خپلو امکاناتو او توان ته په کتو د هغوی د ژغورنې او ساتنې لپاره هېڅ راز هڅې ونه سپموي.»

په ۲۰۲۲ کال به د یونیسف له اټکل سره سم، د خوراکي ناورین او د اوبو، تشنابونو او روغتیا ساتنې خدمتونو ته د لږ لاسرسي له امله، تر پنځو کالو کوچنیو ماشومانو له ډلې د هر ۲ ماشومانوڅخه یو تن به شدیده خوارځواکۍ اخته وي. د شري یا سرخکانو خپرېدل په ۲۰۲۱ کال له ۶۰،۰۰۰ څخه ډېرو کېسونو په ثبت کېدو سره ادامه لري. په اټکلي توګه، له هرو ۱۰ افغانانو څخه ۸ تنه ککړې اوبه څښي. له دې سره، که چېرې د ښوونکو معاشونه ورنه کړل شي او د بې وزلۍ لوړه کچه همداسې ادامه ولري، ۱۰ میلیون تنه ماشومان به د زده کړو پرېښودو له خطر سره مخامخ شي. د ساړه او سخت ژمي په را رسېدو سره، کورنۍ په داسې حال کې د خپلو کورونو او ماشومانو د تاوده ساتلو هڅه کوي چې د سړې هوا کچه ښايي د سانتي ګراد تر منفي ۱۲ درجو ښکته شي.

یونیسف به د بشردوستانه اصولو په چوکاټ کې د ماشومانو د ژغورنې او درملنې پروګرامونو او د نورو بنسټیزونو خدمتونو چمتو کولو ته لومړیتوب ورکړي. د یونیسف دغه اقدام به د هغو سیستمونو له پرځېدنې څخه د مخنیوي له لارې چې د ماشومانو لپاره حیاتي ګڼل کېږي، د اړینو خدمتونو د دوام تضمین وي او په ورته وخت کې به د ښځو او نجونو د حقونو په څېر د هغو لاسته راوړنو له ساتنې سره مرسته وکړي چې په ډېره سختۍ ترلاسه شوې دي.

یونیسف به دغه مالي مرستې او بسپنه د لاندې خدمتونو د پراختیا او موخو ترلاسه کولو لپاره وکاروي:

- په شدیده خوارځواکۍ اخته یو میلیون ماشومانوته درملنه.
- له شري یا سرخکانو څخه د ساتنې په موخه د لس نیم(۱۰.۵) میلیونه ماشومانو واکسینول.
- د یوولس نیم(۱۱.۵) میلیون تنو لپاره د پاکو اوبو چمتو کول.
- له دې څخه داډ ترلاسه کول چې ووه نیم( ۷.۵) میلیون تنه ماشومان زده کړو ته لاسرسی لري.
- تر ټولو ډېرو زیانمنو کورنیو او ماشومانو د بنسټیزو اړتیاوو پوره کولو لپاره د بشردوستانه نغدي لېږدونو پراختیا.

اکونګا زیاتوي: «یونیسف د دې بشردوستانه غوښتنې له لارې ټولو تمویلوونکو ته بلنه ورکوي چې د افغان ماشومانو ملاتړ او حمایت وکړي. موږ باید خپل انسانیت په یاد ولرو او د ماشومانو د ژوندي ساتلو، غوره تغذیې، امنیت ټینګولو او تعلیم لپاره هېڅ راز هڅې ونه سپموو. دغه کار به اسانه نه وي خو دېته په کتو سره چې د ماشومانو ژوند او روغتیا له خطر سره مخامخ کېږي، موږ باید ګام پورته او د مرستې لاس ورکړو. موږ له نړیوالې ټولنې غوښتنه کوو چې له موږ سره یوځای اوږه په اوږه ملتیا وکړي ترڅو افغان ماشومان وکولای شي له داسې ژوند او راتلونکې څخه برخمن شي چې لرل یې د دوی ځرګند حق دی.»

یونیسف د تمویلوونکو سازمانونو مننه کوي چې د یونیسف د ۲۰۲۱ کال له غوښتنې سره یې د بېړني ملاتړ سره وکولای شو چې لاندې خدمتونه چمتو کړي: ژغورونکي خدمتونه لکه د وړیو ماشومانو د تغذیې لپاره روغتیایي خواړه؛ اړمنو ټولنو ته د اوبو رسول؛ د نجونو په ګډون د ټولو ماشومانو لپاره ښوونیز اړتیاوې؛ او د افغانستان په لرې پرتو سیمو کې د زیانمنو او اړمنو کورنیو او ماشومانو لپاره د بېړنیو روغتیایي خدمتونو د مخامخ چمتو کولو لپاره ګرځند روغتیایي کلینیکونه.

###

د مدیرانو او اډیټورانو لپاره یادونه:

نوي مولټي میډیایي مواد په لاندې آدرسونو کې شته دي:

- له کندهار ولایت څخه داسې نوي او جالب انځورونه ډونلوډ کړئ چې پر ماشومانو د خوراکي ناورین اغېزې او د یونیسف تر ملاتړ لاندې روغتیایي او تغذیوي ټیمونو کارونه ځرګندوي.
- د ګرځنده روغتیایي ټیمونو اړوند هغه مطالب ډونلوډ کړئ چې په بامیانو کې د روغتیایي او تغذیوي خدمتونو په وړاندې کولو بوخت دي.

- د مرتضی په نوم د هغه ۱۱ کلن ماشوم کیسه چې موږ په بامیانو کې د خپل کلي په سفر بیایي، د ثریا په نوم د ۱۷ کلنې ماشومې کیسه چې موږ په خپله ټولنه کې د محلي زده کړو ټولګي ته بیایي او په هرات کې د پروانې په نوم ۴ کلنې نجلۍ کیسه ډونلوډ کړئ چې د شدیدې خوارځواکۍ تر درملنې لانـدې ده.

**د یونیسف د نړیوالې بشردوستانه غوښتنې بشپړه نسخه له دې ځایه ډونلوډ کړئ.**

**د یونیسف په اړه:**

یونیسف د نړۍ تر ټولو سختو ځایونو کې تر ټولو محرومو ماشومانو سره د مرستې لپاره کار کوي. موږ د نړۍ په ۱۹۰ هېوادونو او سیمو کې د هر ماشوم لپاره په هر ځای کې د غوره راتلونکې جوړولو لپاره هڅه کوو. د یونیسف او د هغو کارونو په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره لاندې وېب سایټ وګورئ چې دغه سازمان یې په افغانستان کې د ماشومانو لپاره ترسره کوي: https://www.unicef.org/afghanistan/ .

یونیسف په افغانستان کې په ټویټر، فېسبوک، انستاګرام او یوټیوب هم مونـدلی شی.

د لا ډېرو معلوماتو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسئ:

سم انتا مورټ، یونیسف افغانستان، 7110 998 79 93+، smort@unicef.org
ماریکسي مرکاډو، یونیسف افغانستان، 7172 559 79 41+، mmercado@unicef.org
صبرینا سیدهو، یونیسف سوېلي آسیا، 19174761537+، ssidhu@unicef.org
الیاني لوتې، یونیسف سوېلي آسیا، 9801030076 977+، eluthi@unicef.org